# د افغانستان اسلامی امــارت
# د کانونو او پټرولـیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۷

یته: ۱۷/لړم/۱۴۰۱

وونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د اساسي قانونو د څارني او تطبیق کمیسیون پخواني رئیس سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه



پنجشنبه۱۴۰۱/۸/۱۲ نېټې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د اساسي قانون د څارنې او تطبیق کمیسیون پخواني رئیس ښاغلي ګل رحمان قاضي او مل پلاوي سره وکتل.
ښاغلي شیخ صاحب محترم قاضي ته د ښه راغلاست تر څنګ په مختلفو مسایلو خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې افغانستان بېشمېره کانونه لري او په اوس وخت کی شته فرصتونو ته په کتو سره کولای شو د هیواد اقتصاد ته پرمختګ ورکړو. او د هیواد د کانونو په برخه کې په کار کولو سره به د هیواد اقتصادي سیستم زیات شي او په هیواد کې د کارموندني وضعیت ور سره ښه کېږي.
په دغه ناسته کی ښاغلي ګل رحمان قاضي وویل دښمنان غواړي چې د افغانانو تر منځ قومي جګړه پېل کړي او افغانان له کړاونو او بدبختیو سره مخ کړي چې نور موږ له جګړو ستړي شوي یو او نه غواړو چې یو ځل بیا جګړې پېل شي او اوسنی نظام له مینځه یوسي

# د کانونو او پټرولیم وزارت د ولایتونو رئیسانو لپاره د روزنیز پروګرام تر تیبول

نو او پټرولیم
زارت اوونیزه



بشري سرچینو ریاست د روزنیز پروګرام په د دوهم ځل لپاره د 22 ولایتونو رئیسانو او د وزارت د مختلفو برخو کارمندانو
پاره د وزارت قوانیونو او مقرراتو، د کاري پلانونو او برنامو ترتیبول، د عواید برخو، مالي او حسابي، د کانونو د
راردادونو او د جیولوجي سروې برخو تشریح کولو لپاره یکشنبه 1401/8/15 نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت د غونډو په
الار کې پنځه ورځینی روزنیز پروګرام جوړ شوه.

په دغه مراسمو کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله
طلیمي، د پالیسي او برنامو مرستیال شیخ ضیاءالرحمن الاریوبي، د بشري سرچینو رئیس احمد ضیاء خاکسار او د وزارت یو
شمېر رئیسانو او کارمندانو ګډون درلوده.

روګرام د قران عظیم الشان په څو مبارکو آیاتونو سره پیل شو. وروسي بیا د یاد وزارت سرپرست ټولو ګډونوالو ته د ښه
اغلاست تر څنګ وویل: چې د استخراجي صنایعو سکټور ته د ودې لپاره موږ تل هڅه کوو چې له مسلکي کسانو څخه کار
اخلو.

دغه پروګرام له ترسره کولو څخه مو موخه په بېلابېلو څانګو کې د یادو کارمندانو د پوهاوي د کچې لوړول دي. همدانګه
ادو برخو تشریح د اړوندو څانګو د رئیسانو او متخصصینو له لوري ګډونوالو ته د پرزنټیشن له لارې وړاندې کېږي

# دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم با پیر سید حامد گیلانی



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن وپترولیم محترم پیر سید حامد گیلانی را چهارشنبه مورخ ۱۴۰۱/۸/۱۱ در دفتر کارش پذیرفت.

درین دیدار هردو جانب ضمن صحبت در مورد حاکمیت ملی و تامین امنیت سرتاسری افغانستان، پایان دادن به جزیره های قدرت در کشور و پیرامون موضوعات مختلف بمنظور آوردن رفاه، آسایش و تحکیم وحدت ملی میان اقوام و اقشار مردم افغانستان گفتگو نمودند.

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د سمنګان ولایت کاني ظواهر




فغانستان د جیولوژیکي جوړښت او جغرافیایي موقعیت له اړخه په هغو کم شمېر هیوادونو کې راځي چې پراخه
طبیعي زیرمې لري. دا زیرمې د افغانستان په ټولو ولایاتو کې شتون لري، چې په متوازنه توګه، یادې زیرمې د
هوایدو په دوامداره راتولیدو او ترلاسه کولو کې خوراه مهم ارزښت لري. او همدارنګه افغانان تمه لري چې، د
مواد د کانونو له استخراج او کټې اخیستنې به د افغانستان اقتصادي او پراختیایي څرخ د ډېر وخت لپاره په خوځښت
ري، چې یاد خوځښت پخپله د افغانانو د اقتصادي ودې او پراختیا لامل کیږي.

سمنګان ولایت چې د بې شمېره کاني ظواهرو درلودونکې دی د افغانستان د شمالي ولایاتو له جملې څخه شمېرل
کیږي، چې د دې ولایت مرکز د ایبک ښار دی. دا ولایت د شمال لخوا د بلخ او کندز، د ختیځ لخوا د بغلان، سویل ته
ی بامیان او د لویدیځ لخوا د بلخ او کندز له ولایتونو سره ګډه پوله لري. همدارنګه د یاد ولایت نفوس د احصأیې ملي
داري د معلوماتو پربنسټ (430,489) تنه ښودل شوي.

افغانستان د جیولوجي سروې او د سمنګان ولایت د کانونو ریاست د معلوماتو پر بنسټ، یاد ولایت د مختلفو
طبیعي زیرمو او کاني ظواهرو سرچینې لري، چې تر دې د مه پې (۳۷) سیمي په جدول کې ثبت شو

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونيزه










د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونۍ کې د 1401 کال د عقرب میاشتې له 5 نېټې څخه تر 11 نېټې پورې (347،434،630) درې سوه اوه څلوېښت میلیونه، څلور سوه څلور دېرش زره او شپږ سوه دېرش افغانۍ عواید راټول کړي.

**د امتیاز خاوند:**
**د کانونو او پټرولیم وزارت**

**مسوول مدیر:**
**محمد فرهاد (عبیدی)**

**ترتیب او تنظیم :**
**استاد نجیب الله (رحیمي)**

**طرح او دیزاین:**
**محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)**

ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان
www.momp.gov.af
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته: PR@momp.gov.af